# زېری

علمي- څېړنيزه او ادبي پنځلس ورځنۍ جريده    د تاسيس کال ۱۳۱٦ هجري شمسي

پنجشنبه، (۹- ۱۰مه) گڼه، دریيمه دوره، پرلهپسې (۳۵۳- ۳۵۴مه) گڼه، د ۱۳۹۹ل.کال د اسد (زمري) د مياشتې ۳۰مه، د ۱۴۴۲هـ.ق. کال، د محرم د مياشتې ۱ او د ۲۰۲۰ز.کال، د اگسټ ۲۰مه.


د هر چا په ځای چې پاتو ناخلف شي
اسم و رسم يې د ښو واړه تلف شي
ناقابل د چا په مېنه پاتو مه شه
په بد خوی يې اخر بد همه سلف شي
اشرف خان هجري

## ستاينه




څېړنوال سيد نظيم سيدي


په پښتو ادبياتو کې يو ډېر مهم او ارزښتمن بحث د معاني دی چې د ځينو ادبپوهانو په وينا د ادبياتو روح باله شي او بې له معاني موږ د کلمو دويمه او کله ناکله دريیمه معنا نشو موندلای، نو ځکه اديب ته بويه چې پر معاني ځان پوه کړي.

په دې مقاله کې موږ د معاني پر اساساتو يا دا چې معاني څه شی دی بحث نه کوو، ځکه د هغې موضوع راسپړل د دغې مقالې له حوصلې څخه وتلې خبره ده. په دې څېړنه کې موږ د معاني د ښوونيزې لارې چارې په يوې برخې چې هغه همدا ستاينه ده بحث کوو چې په ډېرو برخو کې د کارېدنې موارد لري.

ادبپوهان وايي ستاينه لومړی د گرامر يو ډول دی او تر گرامر وروسته په ادبياتو کې هم په پوهو او فنونو کې کارېږي، هم په کيسه ييزو ليکنو کې د استعمال موارد لري او هم په رپوټونو، يونليکونو او ډرامو کې. ځينې ادب څېړونکي په دې گروهه دي چې ستاينه تر ډېره په تجربي پوهنو کې د پېژند په توگه کارول کېږي. د ساري په ډول: که موږ وغواړو بوټي او گلان وپېژنو، نو اړ يو چې د ځينو بوټو ستاينه يا صفات په داسې ډول وړاندې کړو چې له امله يې بوټي وپېژندل شي: «ترمرغه: دا شين بوټی د غنمو په شان نرۍ اوږدې پاڼې کوي، د لښتې او ډُرمې غټوالی يې کټ مټ د غنم د ډکې او ډنډر په اندازه دی، د دغه بوټي ډُرمه د نيم گز يا څلورو لوېشتو او يو نيم گز په اندازه لوېږي، دغه بوټي غواوې په مينه سره داسې خوري؛ لکه رشکه. نور مالونه دومره مينه نه ورسره کوي. د ترمرغې د بوټي درمه په سر کې د غنمو د وږي په شان وږي کوي، وږې وږې دانې کوي، د منې په وخت کې وچېږي او گلان نه لري؛ لکه چې وويل شول يو ډول وږې سرې او يا خړچکې غونډې دانې کوي، چې دا دانې د دغه بوټي تخم گڼل کېږي. د وږي نه يې د وچېدو وروسته د مځکې په مخ راتوييږي، په هغو... ». (۱)

که پورته څرگندونو ته ځير شو وکړو او لږ پر خپل ذهن فشار راوړو، ښايي په ډېرې اسانۍ سره د پورته بوټي انځور وباسو؛ نو ځکه ادب څېړونکي وايي په هغو ليکنو کې چې د خيال مراندې ډېرې اړينې دي او بنسټ گڼل کېږي، ستاينې په کې په دغه ډول جال غوړوي او يوه ښکارنده په دغه ډول لوستونکو ته وړاندې کوي؛ خو دې ټکي ته هم پام په کار دی چې ستاينه يا ستاينې بايد داسې وړاندې شي چې لوستونکي يا مخاطب کس ته د يادې ښکارندې انځور په ذهن کې انځورشي. مجسم شوی انځور که کټ مټ هماغسې نه وي؛ نو ډېر لږ توپير ترې هم نه وي.

ستاينه په څو ډوله ده چې ادب څېړونکي يې له طبيعي ستاينې نه نيولې بيا تر زماني او عصري ستاينو پورې وېشي. په دغو ستاينو کې ژوي، انسانان، د انسانانو د ژوند د چاپېرچل حالات؛ لکه خوښي، محافل، غونډې، کورنۍ، ښار، ټولنه او داسې نورې کيسې ځای نيسي، چې بيا دا هره يوه ځانته ځانگړنې او ډولونه لري، چې ټول د ستاينو په عمومي چوکاټ کې داخلېږي. د ساري په ډول که موږ يې دا يو اړخ را ټينگ کړو؛ نو ښايي په کې مانوس طبيعت، وحشي طبيعت، د هوا حالات، د خلکو خبرې، حرکات او سکنات، د خوښۍ او خپگان چاپېريال، نفساني خوندونه او حالات او دې ته ورته نورې خبرې په کې ومومو؛ يعنې تر عواطفو پورې ټولې کيسې په کې نغښتې دي چې هره يوه ځانته ځانگړې ستاينه لري. ۳مخ

## د ادبياتو ماهيت




رحمت الله حکيمي


ماهيت د يوه شي، پدېدې او الفاظو ذاتي جوهر، حقيقت او څرنگوالي ته وايي. د ادبياتو په ماهيت خبرې کول ستر زړه غواړي، ځکه ادبي کيف محسوسېږي، خو پېژندل کيږي نه؛ خو په اړه يې چوپه خوله پاتې کېدل ادبياتو ته زيان رسوي او د ادب مهذبه ونه په شډلتوب اړوي؛ تر څو چې د ادبياتو په ماهيت پوه نشو، نه به اديب شو او نه د ادبياتو تر څنگ تېر.

ادب تر ډېره تعريف ته ځان نه سپاري او نه دومره وړه موضوع ده چې په څو مشخصو الفاظو او تعريفونو کې را خلاصه شي. ادب په ټوله کې د انسان، انساني ژوند او طبعيت دويمه او اغېزناکه انځورونه ده، د انساني ارزښتونو اغېزناک تفسيري نظام دی، په خاص ډول هغه ژبنی هنر دی چې واقعيتونه په هنري ايماژونو کې وړاندې کوي.

که د ادبياتو په ماهيت خبرې کوو په کار ده چې دې پوښتنو ته ځواب ووايو : ادب څه دی؟ د ادب موخه څه ده؟ کوم رسالت ور تر غاړې دی؟ ادبيت څه دی؟ د ادب او واقعيت تر منځ اړيکه څه ده؟

ادبيات په عمومي ډول انساني فضليت او په ځانگړي ډول د کلمو، الفاظو اغېزناک جوړښت، ترتيب او اوډنه ده. ادبيت هغه کيف او ذاتي جوهر دی چې لوستونکي متاثره کوي، د ژوند او طبعيت په اړه د لوستونکي او اورېدونکي دروني رجحانات راولاړوي.

ادبي کيف محسوسېږي خو تعريفېږي نه. موږ د ( گل) بوی حس کولای شو، نه پېژندلای. دې پوښتنو ته ځواب نه لرو چې ولې د گل بوی خوږ او ښه دی؟ ولې په غير ارادي ډول زموږ په روح او روان اغېزه کوي؟ همدا ډول ادبيات زموږ د روحي خوښۍ او ارامۍ درمل دي.

کله چې د ادبياتو په موخه غږېږو، په کار ده چې په ادبي چاره هم لږ رڼا واچوو. ادب د انسان لپاره د انسان پنځونه ده چې پرته انساني ارزښتونو او اقدارو څخه يې نشو مطالعه کولای انسان له زېږېدو سره سم ټولنې او اجتماع ته اړ دی. له محيطي تړاو سره په تطابق يې ښکلاييز احساس پالل شوی وي. که د انسان ارتقايي فلسفه مطالعه کړو؛ نو انسان هغه موجود دی چې ذوق، خيال، عاطفه او استيتيکي حس يې له چاپيريال سره په تړاو کې وده کړې، که څه هم دا پرزې د ده وجود کې په ذاتي ډول ځای پر ځای شوي وي، ليکن په فعاليت پيل کول، پالل او وده ورکول يې د محيط له برکته وي. ادب (گل پيچي) ته ورته دی چې تار او لښته يې ژوند دی بې له دې څخه مړاوی، شډل او بدرنگه کېږي؛ څنگه چې لښته يا تار دغه گل ته رونق، ښکلا او ژوند ورکوي همدا شان ۳مخ


څېړنياره شفيقه نوري


## د گرامر وېش او ډلبندي

گرامر د يوې ژبې د معياري زده کړې د آسانتيا لپاره لوستل کېږي، د گرامر اصطلاح د لاتيني اويوناني ژبې له گراماتيکي Grammatike ريښې څخه راوتلې، چې په انگريزي ژبه کې گرامر Grammar او په روسي کې يې گراماتيکه بولي.

گرامر د تشريحي ژبپوهنې د يوې څانگې په توگه د ژبڅېړونکو او ژبپوهانو له خوا په بېلابېلو بڼو پېژندل شوی. چا يو ډول او چا د الفاظو په څه تغيير او بدلون په بل ډول معرفي کړی دی، خو په ټوله کې يې په موضوعي لحاظ موخه يوه ده. پخوانيو ژبپوهانو به گرامر د هغو قواعدو او اصولو ټولگه بلله چې د خبرو پر مهال يې په رعايت کولو سره انسان له تېروتنو او خطا ژغورل کېده، خو د گرامر دا پېژندنه تر ډېره د معاصرې ژبپوهنې له بنسټونو، اصولو او غوښتنو سره سر نه خوري. د معاصرې ژبپوهنې په رڼا کې بيا ژبپوهان گرامر داسې راپېژني: هغه پوهه چې د يوې ژبې د جوړښت نظام تر څېړنې لاندې نيسي گرامر بلل کېږي.

هغه اصول او قواعد چې د يوې ژبې جوړښت په علمي ډول څېړي گرامر يې بولي. په گرامري څېړنو کې ژبه د قوانينو تابع نه گرځول کېږي، بلکې گرامر د ژبې قواعد، څرنگه چې د اصلي ويونکو لخوا ويل کېږي، په همغه بڼه تشريح کوي. د نړۍ هره ژبه ځانته خپل ځانگړی جوړښت او بېل گرامري قوانين او ځانگړتياوې لري چې همدا اصول او پرنسيپونه يوه ژبه له بلې ژبې څخه توپيروي؛ نو پر دې اساس نشو کولای چې د يوې ژبې گرامري قواعد او اساسات پر کومه بله او يا نورو ژبو په بشپړه توگه تطبيق کړو.

د يوې ژبې گرامري قواعد د بلې ژبې لپاره کارول يا د يوې ژبې گرامر کټ مټ د بلې ژبې د گرامر په پيروۍ ليکل سم علمي او منطقي کار نه دی.(۴: ۴ مخ)

په ټوليزه توگه گرامر لاندې برخې لري:

۱ـ غږپوهنه يا فونولوژي

غږپوهنه هغه پوهه ده چې د يوې ژبې د فونيمونو جوړښت، ترکيب گردان او ډولونه تر څېړنې لاندې نيسي.

۲ـ صرف يا مورفولوژي

مورفولوژي د گرامر هغه برخه ده چې د يوې ژبې مورفيمونه د هغوی جوړښت، ډولونه او نورې ځانگړنې تر څېړنې لاندې نيسي.

۳ـ نحوه يا غونډله پوهه

نحوه يا غونډله پوهه هغې پوهې ته وايي چې د يوې ژبې د جملو، عبارتونو او فقرو جوړښت او ساختمان مطالعه کوي.

۴ـ مورفو فونيم پېژندنه

هغه پوهه ده چې د يوې ژبې په مورفيمي جوړښت کې فونيمي بدلونونه څېړي. په کومو ژبو کې چې دا ډول بدلونونه زيات وي، هلته بيا د صرف او نحوې له بابونو څخه بېل په بل باب کې څېړل کېږي. (۳: ٦٦مخ)

که څه هم نوې ژبپوهنه يوه نوې پوهه او د شلمې پېړۍ له لاسته راوړنو گڼل کېږي، خو د ژبپوهنې دا برخه يعنې گرامر ليکنه د نورو علومو او فنونو په شان په نړۍ کې اوږد تاريخ لري. د ژبپوهانو په عقيده په پښتو ژبه کې د گرامر ليکنې د تاريخ پيل دوولسمې هجري پېړۍ ته رسيږي. پير محمد کاکړ هغه لومړنی کس و چې په دې برخه کې يې خپل قلم چلولی او د پښتو ژبې د زده کړې په موخه يې د «معرفت الافغاني» په نامه يو گرامر د لوی احمد شاه بابا د واکمنۍ پر مهال ليکلی دی، کله چې د هغه زوی شهزاده سليمان د پلار تر مړينې وروسته د يوې لنډې مودې لپاره د واک پر گدۍ کېناست، ليکوال خپل گرامري اثر هغه ته ډالۍ کړ.

### د گرامر ډولونه

د گرامر د ډولونو او ډلبندۍ په اړه د ژبپوهانو او ژبڅېړونکو له لوري بېلابېلې څرگندونې شوي چې چا د گرامر ډولونه په لنډ ډول ښودلي او چا بيا په تفصيل سره د گرامر بېلابېل ډولونه تشريح کړي دي. دا چې گرامر ليکنې بېلابېلې مرحلې تېرې کړې دي، نو له همدې امله د دغه دورو په اوږدو کې د بېلابېلو ميتودونو پر بنسټ د گرامر زيات شمېر ډولونه رامنځته شوي دي. تر ډېره د ژبې گرامرونه د بېلابېلو تيوريو له مخې په عمومي توگه په لاندې ډولونو وېشل کېږي:

کلاسيک يا دوديز گرامرونه
پرتليز تاريخي گرامرونه
تشريحي او ساختماني گرامرونه (۱:سريزه الف)

پر پورتنې وېش سربېره گرامر په لاندې ډولونو وېشل کېږي:

**۱ـ گړدودي (لهجوي) گرامر (Dialect Grammar)**

که په يوه گرامر کې گرامر ليکونکی يوازې د يوې ځانگړې جغرافيايي لهجې ساختمان او جوړښت او يا د يوې ژبې د يوې ټولنيزې لهجې ساختماني ځانگړتياوې تشريح کړي، دې گرامر ته گړدودي(لهجوي) گرامر ويل کېږي. لهجوي گرامر په دوه ډوله دی:

**۱ـ جغرافيايي لهجوي گرامر:** هغه گرامر چې په هغه کې د يوې ژبې د ټاکلې سيمې لهجوي ځانگړنې څېړل کېږي او د همدې لهجوي ځانگړنو پر بنسټ ژبې ته گرامر ليکل کېږي جغرافيايي لهجوي گرامر بلل کېږي.

**۲ـ ټولنيز لهجوي گرامر:** هغه گرامر ته ويل کېږي چې د يوې ټاکلې ټولنيزې ډلې د لهجې پر بنسټ وليکل شي.

په پښتو ژبه کې لومړی لهجوي گرامر د نامتو ژبپوه هربېرټ پنزل ليکلی گرامر دی چې پوهاند محمد رحيم الهام پښتو ته راژباړلی دی. دغه گرامر د پښتو ژبې د کندهارۍ لهجې پر بنسټ ليکل شوی دی. (۲: ۵۴مخ)

که چېرې د يوې ژبې د ليکلو او ويلو ژبه د دوو بېلابېلو لهجو حيثيت ولري، نو په دې صورت کې اړينه ده چې بايد د هرې يوې گرامر په جلا ډول د (محاورې او ادبي) گرامر په نامه وليکل شي. ادبي گرامر هم په دوه ډوله دی. (۳: ٦۸مخ).

**۲ـ جامع گرامر (General Grammar)**

هغه ډله وگړي چې د خپلو افکارو او موخو د ترسره کولو لپاره له يوه انساني غږيز سمبوليک سيستم څخه کار اخلي او په يوه ژبه خبرې کوي هغې ته ژبنۍ ټولنه وايي. د يوې ژبنۍ ټولنې ټول وگړي په يوه ژبه خبرې نه کوي، بلکې د بېلابېلو لاملونو پر بنسټ يې د ويونکو د خبرو په شکلونو کې ځينې تغييرات او توپيرونه ليدل کېږي چې همدې بدلونونو ته په ژبپوهنه کې گړدود يا لهجه وايي. ۳مخ

| طنز |

لیکوال: محمدحنیف ثابتي
ژباړن: بشرمل زرغون

## قرباني

خدای(جل جلاله) دې په خپل دربار کې قبوله کړي؛ ما سږ کال په لوی اختر کې په ټول عمر کې د لومړي ځل لپاره یو ګډ قرباني کړ، دا کار مې په خپل دیني هوډ بشپړ کړ؛ که څه هم پر ما دا فرض نه و، چې زه دې یو حیوان واخلم او حلال دې کړم؛ ولې چې زه یو ناتوانه او بې بدعته سړی یم.

زما شتمني یواځې او یواځې دوه حویلۍ دي چې یوه مې بهرنیانو ته په کرایه ورکړې او درې هټۍ په ښار کې او څلور موټره، یو لک یا دوه لکه امریکایي ډالر د خرڅې په نوم په خپل جېب کې لرم؛ په دې نو څه کېږي؟ په هر صورت، د اختر په لومړۍ ورځ مې د اختر لمونځ، سترې مشي، پوښتنې او مبارکۍ پای ته ورسولې او کورته راغلم، ښه ځنډ مې وکړ، چې شپه شوه؛ غلې پلې مې د قربانۍ حلاله وکړه، غوښه او وازده مې د نیکونو په څېر په مالګه کړل او را و مې ځړول؛ سر، پښې او تورې مې د اختر نورو ورځو ته ځانګړي کړل، چې کله- کله به مې په سبایي- سبایي کې په دېګ کې پخول؛ کله به یوه شپه او بله شپه پخېدل او تر بلې شپې به مو خوړل. په دې ورځو کې به چې مېلمانه راغلل؛ نو زموږ د پخې شوې ښورا انتظار یې نه دی کړی؛ یواځې له خوږې(شېرنۍ) سره یوه پیاله چای څښلې او تللي دي.

د یوه ګاونډي مېرمن مو راغلې وه؛ لږه کۍ غوښه یې د خپل ناروغه خاوند لپاره وغوښته.

ومې ویل: موږ قرباني نه ده کړې!

ویې ویل: ما ولیدله، چې تاسې وکړه.

- موږ دوه درې ورځې وړاندې حلاله وکړه؛ اوس غوښه خلاصه ده.

- په اسلام کې د قربانۍ حلاله د اختر لمانځه نه مخکې کول جایز نه دي!

- په شریعت ښه پوهېږې؛ لېکن په شرایطو ښه نه پوهېږې، اوس د زماني بدلون سره د قربانۍ شرایطو توپیر موندلی دی، څه! زموږ په خاطر په ازار نه شې، په همدې سپېڅلي احساس مې رخصت کړه؛ مګر خدای دې په خپل دربار کې قبوله کړي.

لږ لري او کولمې مې یوې بلاربې پیشکې ته واچولې، پرېږده چې د بچیو سترګې یې وږې پاتې نه شي؛ نور نو چا یې بوی- موی حس نه کړ، په خپله مې له ډېرې ناچارۍ په میاشتو- میاشتو نیمه کیلو غوښه نه شوه اخیستلای؛ تر ډېره مې د قربانۍ غوښه وخوړله، الله(جل جلاله) دې په خپل دربار کې قبوله کړي.

| راپورتاژ |

څېړنوال محمد اصف احمدزی

## د اکاډمیسن سلیمان لایق جنازه

د لوی اختر لومړۍ ورځ (د ۱۳۹۹هـ. ش کال د اسد ۱۰مه/ د ۲۰۲۰م کال د جولای ۳۱مه) وه چې په رسنیو کې د اکاډمیسن سلیمان لایق د مرګ خبرونه خپاره شول.

دا چې د اختر رخصتۍ وې، نو خپل دفتر (علومو اکاډمي) ته له رخصتۍ وروسته د سه شنبې په ورځ (د اسد ۱۴مه) لاړم، د علومو اکاډمي رئیس څېړنوال ډاکټر عبدالظاهر شکېب خواته مې سر ورښکاره کړ، ګورم چې د اکاډمۍ له اداري او مالي معاون ښاغلي حیران او څو نورو ادارو غړو سره ناست دی او د لایق د جنازې د راوړلو او ترتیباتو نیولو په اړه یې سره خبرې کولې. زه هم کېښناستم، مشوره روانه وه، ویل یې چې د سلیمان لایق د جنازې د ترتیب لپاره په دولتي کچه د علومو اکاډمۍ په ګډون د څو ادارو او وزارتونو په کچه د هغه د جنازې د درناوي او تدفین د مراسمو لپاره یو کمیسیون ټاکل شوی، خو زیاتره کارونه به د علومو اکاډمي کوي. د اطلاعاتو او عامه اړیکو د مسئول په توګه یې په ما غږ وکړ چې فرهنګي مسایل ستا په غاړه دي؛ د لایق صیب پښتو او دري لنډ شعرونه را پیدا شي، بلنلیکونه ترتیب شي، بېلا بېل کارتونه برابر شي، پوسټرونه او بېژونه ډیزاین شي او ژوندلیک یې ولیکل شي.

سمدلاسه لاس په کار شو، د لایق صیب تازه چاپ شوې شعري ټولګې مې واړولې را واړولې، د ده هغه شعرونه چې وطني او هېوادنۍ اړخ یې درلود او د ملي یووالي بوی و رنګ په کې غالب و، انتخاب کړل؛ د بلنلیک مسوده او د وسایطو او د کمیسیون د غړو د هویت کارتونو متن هم برابر شو؛ مازیګر مهال و چې ښاغلي دوکتور هاشمي مې دفتر ته راننوت، هیله مې ترې وکړه چې د ژوندلیک په برابرولو کې را سره مرسته وکړي. د همدې ورځې تر ماښامه یو څه کارونه وشول.

په سبا (چهارشنبه د اسد ۱۵مه) چې دفتر ته راغلو، له ښه مرغه د علومو اکاډمي د بشري علومو د نوي ګومارل شوي معاون څېړنپوه دوکتور محمد عالم اسحاقزي په مشرۍ یو کمیسیون جوړ شوی و، چې غړي یې سهار مهال ټول سره راټول شوي وو، ماته یې هم احوال راکړ چې ورشم. ښاغلي اسحاقزي وویل چې د افغانستان په کچه د یوه علمي او فرهنګي شخصیت او د اکاډمۍ د یوه غړي په توګه به د سلیمان لایق د جنازې د درناوي او تدفین مراسم په ښه توګه ترسره کوو. په ما یې غږ وکړ چې تراوسه پورې څه شوي دي؟

ما خپل کاري ګزارش وړاندې کړ، ومې ویل چې یو څه کارونه پرون ترسره شوي دي، خو هیله ده د هر کار د تکمیلولو او کره کولو لپاره څو- څو استادان مؤظف شي. هماغسې وشول، د پښتو او دري ژوندلیکونو برابرولو لپاره دوکتور سید محی الدین هاشمي، څېړنوال سید نظیم سیدي، څېړندویه مارینا بهار او څېړنیار محمد اسحاق مومند وټاکل شول. د لویو بینرونو لپاره د پښتو او دري اشعارو د بشپړولو او لا دقیق کولو مسئولیت ښاغلي څېړنپوه شېرعلي تزري، ښاغلي سیدي او آغلې بهار ته وسپارل شو، د بلنلیک د پښتو، دري او انګلیسي متن د کره کولو لپاره څېړنپوه حفیظ الله حداد او څېړنپوه محمد موسي رحیمي وټاکل شول. د بلنلیک کوم متن چې ما برابر کړی و، لیکلي مو و چې: »د هېواد نوماند علمي، فرهنګي او سیاسي شخصیت.....«، خو له وروستۍ کلمې سره د کمیسیون زیاتره غړي موافق نه و، »سیاسي« مو په »اجتماعي« بدل کړ او په دې برخه کې د علومو اکاډمي علمي منشي ښاغلي څېړنوال رفیع الله نیازي د لایق په اړه د ارګ د خواشینۍ پیغام ولوست چې هلته هم د »اجتماعي« کلمه راغلې وه. د نورو کارتونو د متن کره کولو همکاري مې د علومو اکاډمي د طبیعي علومو مرستیال ښاغلي څېړنپوه رحمت ګل احمدي څخه وغوښته. په ناسته کې پرېکړه وشوه چې ټول به خپلې چارې پیلوي او ماسپښین په ۲ بجو به هر ټیم د خپلو کارونو ګزارش وړاندې کوي.

د ماسپښین د دوه بجو غونډه د علومو اکاډمي د مشر دوکتور شکیب په مشرۍ پیل شوه او ټولو خپل کاري ګزارشونه وړاندې کړل. د یاد شوي کمېسیون پر غړو سربېره د ولسمشر سلاکار زرین انځور، د چارو اداري مرستیال دوکتور عبدالکریم توتاخېل او د ولسمشر د لومړي مرستیال د دفتر استازی عبدالرزاق احمدزی هم په مجلس کې حاضر ول.

په همدې وخت کې د فرهنګي چارو لپاره د کمپیوټر ډیزاینرانو ته اړتیا وه چې خوشبختانه د کابل ښاروالۍ ډیزاینر ښاغلی قاسمي او د علومو اکاډمي د دایرة المعارف د مرکز ډیزاینر ښاغلی مجتبی زما شعبې ته را ورسېدل. هغوی ته مو مواد د ډیزانیولو په خاطر تسلیم کړل.

دا سترې ورځ هم تېره شوه، په سبا (پنجشنبه) مو ټوله ورځ له ډیزاینرانو سرد د بیلبوردونو، ژوندلیکونو، بلنلیکونو او کارتونو په ترتیبولو کې تېره شوه، له یوې خوا کارونه زیات وو او وخت ته ضرورت و او له بلې خوا حکومت اعلان وکړ چې د سولې مشورتي لویې جرګې په مناسبت د شنبې ورځ رخصت ده (جرګه د جمعې په ورځ د اسد ۱۷مه پیل شوه). بس د پنجشنبې تر ماښامه مو ټول فرهنګي مسایل برابر او چمتو کړل او نور مو د چاپ لپاره د اکاډمۍ اداري مسئولینو ته وسپارل. د جرګې رخصتۍ د یکشنبې ورځې لپاره هم وغځېده، خو د اکاډمۍ مشرتابه او رئیسان ټول د کارونو د تکمیلولو لپاره دفتر ته رابلل شوي وو. ټولو ته وویل شول چې دوی او د اکاډمۍ زیاتره غړي به سبا (دوشنبه) سهار وختي شپږ نیمې بجې د کابل هوایي ډګر ته راځو چې د لایق صیب جنازه له جرمني څخه دلته را رسېږي. دې رخصتیو له یوې خوا زموږ کارونه راټکني کول، خو له بل لوري یې موږ ته فرصت راکاوه چې کارونه مو لا ډېر بشپړ شي.

له ژمني سره سم د دوشنبې په ورځ (د اسد ۲۰مه) سهار وختي د حامد کرزي هوایي ډګر ته یو شمېر دولتي چارواکي، د اکاډمۍ غړي او د لایق همفکره کسان راټول شوي وو او دې ته په انتظار وو چې الوتکه را ورسېږي. په همدې جریان کې ژوندلیکونه ووېشل شول او د اکثریت کسانو پر سینو بیژونه ټومبل شوي وو، (۸:۱۰ سهار) وې چې الوتکه را ورسېده او د لایق جنازه د یو لړ تشریفاتو په ترڅ کې له الوتکې څخه امبولانس ته ولېږدول شوه، د لارې په دواړو غاړو کې ټول راغلي کسان په منظم شکل ولاړ وو او په منځ کې جنازه بدرګه کېده. جنازه د شهید سردار محمد داوود خان روغتون ته انتقال شوه. نور نو موږ خپلو دفترونو ته راغلو. احوال راکړل شو چې د فاتحې مراسمو لپاره په پښتو او دري ژبو بینرونو جوړولو ته اړتیا ده، متن مې برابر کړ او ډیزاینر ته مو وسپاره. نور نو د جنازې لمونځ د ادا کولو او تدفین مراسمو لپاره تیاری پیل شو. د کابل ښار په ۱۵ ساحو کې لوی بیلبوردونه نصب شوي وو چې په کې د لایق هېوادني او ملي اشعار کښل شوي وو.

د سه شنبې (د اسد ۲۱مه) سهار چې کله روغتون ته لاړو، ګورو چې سردخانې ته مخامخ چمن کې ترتیبات نیول شوي او هر څوک لومړی سردخانې ته د درناوي په خاطر ننوځي او بیا د ونو سیوري ته ترتیب شویو چوکیو ته پناه وړي. استاد رفیع، زرین انځور، دوکتور اسحاقزی، دوکتور هاشمي، جنرال ګل نبی احمدزی، وکیل کټوازی، اکرم خپلواک، څېړنپوه ثریا پوپل، د علومو اکاډمۍ یو شمېر غړو، د لایق د فکر ملګري او د ده د کورنۍ غړو او ګڼو نورو کسانو مخامخ په چوکیو کې ناست وو. د ولسمشر لومړی مرستیال امرالله صالح، په پارلماني چارو کې د دولت وزیر ضیاءالحق امرخېل، د امنیت شورا سلاکار ډاکټر حمدالله محب، د چارو اداري رئیس ډاکټر فضل محمود فضلي په نوبت سره هم د درناوي دې مراسمو ته په جلا جلا وختونو کې راغلل او له څو دقیقو تېرولو وروسته بېرته لاړل.

لس نیمې بجې وې چې تشریفات پیل او د بانډو ټیم خپل ځانګړي حرکات او غږونه شروع کړل، د لایق جنازه را واخیستل شوه، جنازه مخکې او کسان ورپسې. له وزیر اکبر خان څخه تر عیدګاه جومات پورې ډېر ژر ورسېدو، زیاتره لارې بندې وې، محمود خان پله ته چې زموږ موټر ورسېد، تر څو دقیقو انتظار وروسته ترې کښته شو او پیاده مو حرکت وکړ، هلته چې ورسېدو، ګورو چې جنازه تیاره ده او چې کله ور نږدې کېدو، په رښتیا چې له ما، څېړنوال شهزاده توحیدمل، څېړندوی رحیم الله حریفال، څېړندوی محمد سرور احمدزي او څو نورو کسانو څخه جنازه تېره شوه.

په جنازې کې د هېواد لوړپوړو چارواکو، علمي- فرهنګي شخصیتونو، د ملي شورا غړو او د لایق خپلوانو او مینه والو ګډون کړی و. نور نو د مرنجان غونډۍ په لور روان شو، ګورم چې د عیدګاه دباندې لارې ټولې بندې دي، استاد صمیم را غبرګه کړه چې که لایق ژوندی وای او د لارو دغه بندښت یې لیدلی وای، نو دغه حالت به یې په ځان نه و پېرزو.

د مرنجان غونډۍ کې د قبر پر سر دوه لوی تجیرونه وهل شوي وو، چوکۍ ایښې وې. د هېواد پر دغې علمي- فرهنګي ستې د خاورو ډېرۍ جوړه شوه. د قرآن کریم له تلاوت وروسته، څېړنپوه محمد نبي صلاحي راپورته شو، ویې ویل چې د خبرو یو لنډ پروګرام لرو او د علومو اکاډمي په استازیتوب یې څېړندوی مولوي عبدالرحمن عادل ته بلنه ورکړه.

ده وویل چې اکاډمیسن سلیمان لایق په علمي- فرهنګي ډګر کې د سیمې په کچه ځلېدلي څېره وه چې زموږ د هېواد په فرهنګي غنامندۍ کې یې پوره رول درلود. د علومو اکاډمي د اکاډمیسین سلیمان لایق پر علمي، فرهنګي او ادبي خدمتونو ویاړي.

د اطلاعاتو او فرهنګ نوماند سرپرست وزیر محمد طاهر زهیر، اکاډمیسین لایق د هېواد پېژندل شوي علمي، فرهنګي او ادبي څېره یاد کړه او هغه ته یې د ابدي سوکالۍ هیله وکړه. ده ژمنه وکړه چې د اروانښاد لایق له کورنۍ سره په همغږۍ به د نوموړي پاتې ناچاپ آثار چاپ کړي.

پوهاند رسول باوري وویل چې ډېر وخت په کار دی چې د لایق په څېر شخصیت پیدا او دغه تشه دې ډکه شي؛ خو د ده په وینا، لایق ځوان نسل ته داسې آثار پرېښي چې د وروستیو کابو پنځوسو کلونو د بدلونونو او تحولاتو تیاره او غامض ټکي په کې ښکاره شوي دي. ځوان نسل دې د ده آثار مطالعه او ولولي، ځکه د ده آثار د یوه نسل لپاره نه، بلکې د پېړیو لپاره د لارښود حیثیت لري.

دیني عالم ډاکټر سید حسین توکلي د نورو څرګندولو ترڅنګ، لایق وطندوست شخص وباله.

د ملي ډیموکراتیکو قوتونو پیغام کابل خان تدبیر او د افغانستان د قلم ټولنې پیغام څېړنپوه محمد نبي صلاحي ولوست.

په پای کې د اروانښاد لایق د کورنۍ په استازیتوب بشیر رویګر د حکومت له لوړپوړو چارواکو او د لایق د جنازې د درناوي او تدفین د مراسمو له کمیسیون څخه مننه وکړه چې د اروانښاد لایق درناوی یې وکړ او د تدفین د مراسمو لپاره یې لازمې اسانتیاوې برابرې کړې وې.

دغه مراسم د ماسپښین په یوه بجه د قاري محمد نعیم وقار په دعائیه پای ته ورسېدل.

په سبا (چهارشنبه، د اسد ۲۲مه) د کابل په عیدګاه جومات کې د ماسپښین له ۱:۳۰ تر ۳:۳۰ بجو د فاتحې مراسم ترسره شول او له دې سره هممهاله د ښځینه وو فاتحه د شهرنو د فاتحو په سالون کې ترسره شول. مازیګر چې کور ته راغلم، د فاتحې د مراسمو ګزارش سره له انځورونو مې د اکاډمۍ له فېسبوکه خپاره کړل.

پنجشنبه، د سهار شپږ بجې، د ۱۳۹۹هـ. ش
کال د اسد ۲۳مه

## د ګرامر وېش او ...

آرې ژبې څخه رازېږېدلې وي او په یوه واحده ژبکورنۍ پورې اړه ولري، خو مقابلوي ګرامر بیا د دوو یا زیاتو ژبو جوړښت که همریښه وي او یا نه وي سره پرتله کوي.

**۷ـ ښوونیز ګرامر (Educational Grammar)**

ښوونیز ګرامر د تطبیقي ژبپوهنې یوه څانګه ده چې د یوې ژبې د تدریس او زده کړې په موخه لیکل کېږي. د دغه ګرامر د لیکلو لپاره د ژبې د یوې لهجې جوړښت داسې تشریح کېږي چې د ژبې له اصولو سره برابر وي او د ژبې د زده کوونکو لپاره ګټور واقع شي.

**۸ـ مأخذي ګرامر (Reference Grammar)**

دا ډول ګرامرونه د هغو کسانو لپاره لیکل کېږي چې له ژبپوهنې سره ډېره بلدتیا نه لري چې د اړتیا پر مهال د مأخذ او سرچینې په توګه ترې کار اخلي. د دغه ګرامر هره برخه باید په پوره تفصیل سره تشریح شوې وي او توضیحات یې روښانه وي، ترڅو کتونکی په آسانۍ سره په کم وخت کې د فهرست په کتو سره ډېر څه ترې لاس ته راوړي.

**پایله**

په لنډه توګه ویلی شو چې ګرامر د یوې ژبې علمي مطالعه او څېړنه ده چې انسان یې په رعایت کولو سره له تېروتنو ژغورل کېږي. معاصر ګرامر لیکونکي هڅه کوي چې هره ژبه په هغه ډول تشریح کړي، لکه څنګه چې ده، دوی د علمي څېړنو له مخې د یوې ژبې د قواعدو پلي کېدل پر بله ژبه مناسب نه بولي، دا ځکه چې د نړۍ هره ژبه ځانته بېل ګرامري جوړښت او قوانین لري، نو نه شي کېدای چې د یوې ژبې قواعد او اصول دې پر کومه بله او یا نورو ژبو تطبیق شي. د ګرامر د ډولونو او ډلبندۍ په اړه ژبپوهان او ګرامر لیکونکي په یوه خوله نه دي، دوی د بېلابېلو میتودونو او تیوریو پر بنسټ ګرامر په بېلابېلو ډولونو وېشي.

**مأخذونه**

۱ـ خویشکی، محمد صابر. پښتو غږپوهنه او وییپوهنه، ختیځ کتابپلورنځی: ننګرهار، ۱۳۹۲ل.
۲ـ غوربندی، میراجان، تاریخي او مقایسوي ژبپوهنه، د لوړو زده کړو وزارت. د شهید استاد رباني د ښوونې او روزنې پوهنتون، پښتو څانګه: ۱۳۹۷ل.
۳ـ نیازی، رفیع اللّه. په پښتو کې د ګرامر لیکنې تاریخي بهیر، د علومو اکاډمي، د ژبو او ادبیاتو انستیتیوت د ژبپوهنې دیپارتمنت: ۱۳۹۰ل.
۴ـ هاشمي، سید محی الدین. د پښتو ژبې لنډ ګرامر، الازهر خپرندویه ټولنه: ۱۳۸۳ل.

## ستاینه...

د ساري په ډول د ټولنې د وحشت او کله ناکله انسانان له انساني چوکاټ نه د وتلو په اړه صالح محمد صالح په خپل ژباړلي کتاب کې وايي: «پربېدئ له خپلو بدمرغیو سره د خپلو تورو ورځو په غېږ کې چې د همدغو ستاسو انسانانو د جنایتونو پایله ده، خوشحاله و اوسم او د فلاکت په دې انزوا او بد مرغۍ کې له انسان او انسانیت څخه لرې خپله وروستۍ ساه وباسم او له زهر لړلي ژوند څخه مې خلاصه شم. لاړ شئ او ما د ذلت او محنت په سیند کې یوازې پرېږدئ! »(۲) یاد لیکوال د دې لپاره چې انساني احساسات یې نور هم را پارولي وي څو کرښې وروسته خپلې احساساتي خبرې نورې هم پسې غځوي او د یاد موجود له خولې یو بل روایت داسې وړاندې کوي: «تاسې ژاړئ؟ ایا په تاسو کې هم مینه او رحم پیدا کېږي، تاسې چا ته اوښکې تویوئ؟ زما بدمرغیو ته؟! که داسې وي زه مو دا خواخوږي نه منم، هیله کوم لاړ شئ او بې ځایه خپل وخت مه ضایع کوئ... ». (۳)

په پورته عباراتو کې وینو چې ستاینې له احساساتو او عواطفو سره داسې اغېزل شوي چې ډېر ځله یې معلومول هم یو څه ستونزمن وي، په دې معنا لیکوال هڅه کړې چې د انسان آر انسانیت او ستاینې د وحشت او بربریت په رڼا کې زباد کاندي چې انسان څومره کرامات او ستاینې لري؛ خو که کله په حیواني خرمن کې ننوځي، نو بیا ترې بل گواښونکی او بدمرغه ژوی نه شته؛ نو وینو چې په مبهمو الفاظو کې د انسان ستاینه کوي چې دا هم په ټولنه کې د ستاینې یو ډول دی. پر دې سربېره ځینې نورې بېلگې هم وینو چې د ټولنې یا طبیعت د ستاینو استازولې کوي؛ لکه اسدالله غضنفر چې په خپل کتاب د نثر لیکلو هنر کې د استاد رښتین یوې لیکنې ته نغوته کوي: «لمر د خپلو زرینو پلوشو په زنځیرو کې د براسونو ذرې بخرې د وریځو ټاپوانو ته وخېژول، هلته زر زر له تاوه اوبه شول او بېرته د بوټو او ژویو د ژوندانه او ښېرازۍ دپاره زمکې ته راکوز شول.

د زمکې په غېږ کې پرتو ویدو بوټو او شنېلو د ژمي له اوږده خوب نه سترگې وغړولې د وریځو له جزیرو نه راغلو څاڅکو ورله مخونه ووینځل، د نمر تودو وړانگو په کې گرمي او تودوخه واچوله...». (۴)

پورته ټولې څرگندونې د پسرلي ستاینې یا صفتونه دي، لیکوال نېغ په نېغه نه وايي چې ژمی تېر شو او پسرلی راغی، خو ستاینې وړاندې کوي او د ستاینو له مخې سړی اټکل کولای شي چې دا نښې نښانې د پسرلي دي او باید پسرلی راغلی وي، نو دغه ډول ستاینې د معاني د ښوونیزو لارو چارو په یو اصل کې شاملېږي، چې د معاني بنسټ جوړوي او له ټولنې سره نېغ په نېغه اړیکې لري.

اوس که وغواړو د پښتني ژوند په اړه معلومات پیدا کړو او ستاینې یې ځانته معلومې کړو؛ نو اړ یو چې د نصیر احمد احمدي کیسه‌ییز نثرونه ولولو او په دې ځان پوه کړو، چې نوموړی ښاري ژوند ته په کوم نظر گوري او کله چې ورسره د بې کفایتۍ مالگه هم گډه شي، نو څه شی ترې جوړ شي. ده چې په ځوانو لیکوالو کې د ناول لیکنې په برخه کې اسمان ته پوړۍ ایښې په خپل «بوډا او د لېوانو پلونه» ناول په یوې برخې کې پښتني اصیل او نجیب فرهنگ ته په کتو سره د پښتني ټولنې ستاینې داسې وړاندې کوي: «هغې ته مې وکتل، ښکلې وه او په گرد سپین مخ کې یې اوږدو شنو سترگو یوه نوراني ځلا، خو لوڅې غاړې او بې لستوڼو کمېس یې خوند رانه کړ.

د انور غږ مې واورېد:

پلاره! مېوه در واخله!

انجنیر ته مې وکتل، خو هغه ته مېوه نه وه ایښې او د پخوا غوندې یې کتاب سترگو ته نیولی و، بې‌رته مې انور ته سترگې ور واړولې، ده ماته کتل، حیران شوم، انور به ماته ابا ویل، د ده له خولې نه په لومړي ځل د پلار ټکی راته ووت «پلار» هم ښکلې کلمه ده؛ خو ماته نابلده ښکاره شوه، دومره خوند مې ورنه وانه‌خیست؛ لکه څومره چې د ابا په ټکي کې پروت و؛ ځکه انور په لومړي ځل ماته ابا ویلي و، دې توري ته مې اوښکې تویې کړې وې؛ خندلي مې و او د ژوند خواږه یادونه مې په کې پراته و؛ خو دا یو کلیوال توری و، فکر کوم، انور به د ابا په ویلو شرمېده؛ ځکه یې پلار...

موږ تر ناوخته پورې خبرې وکړې، خو کله چې د کوژدنې موضوع رامنځته شوه، نجلۍ په ځړېدلي سر له کوټې نه ووته، که څه هم چې د انجنیر د لور د ژوند مسئله وه؛ خو ده له خبرو سره دومره دلچسپي نه ښوده، کله کله به یې یوه خبره له خولې نه راووته چې د ده د ذوق نماینده گي به یې کوله؛ خو مېرمن یې بیا سور اور وه، ژبه یې بې واره چلېده، خبرې یې کولې، د سویټا د راتلونکي ژوند نېکمرغي یې غوښته او له هرې خبرې سره به یې خندل، ما ته د کور اصلي واکداره دا ښکاره شوه.» (۵)

اوس نو که پورته کرښو ته په دقیقه توگه ځیر شو؛ خورا ډېر ارزښتونه او پښتني ستاینې په کې موندلای شو، په دې معنا سره له دې چې د ابا کلمه کلیوالي ده؛ خو کوم خوند او بې تکلفي چې په دې ویې کې نغښتی هغه د نړۍ په هېڅ کلمه کې هم نشي موندل کېدلای او دا هغه وخت سړي ته معلومېږي، چې په خولو خې‌ښت پې‌ښت له قولبې څخه د ونې سیوري ته د دې لپاره راشي چې کوچنې زوی یې ورته سباناری راوړی وي او ور ناري کړي، ابا سباناری مې درته راوړی دی، یخې شوملې او تازه شوتلې دي، د پیازو غوټه مې هم په درسترخوان کې اچولې. واه – واه، خدای دې دا خوند په ټولو وڅکي.

دغه شان لیکوال په ډېرې ځیرنې د پښتني دودونو دې مس‌ئلې ته هم ځیر شوی، چې د تصمیم نیوونکی او د کور واکمن پلار او یا نارینه وي. نه ښځه او د نارینه په شتون کې ښځه د خبرو جرأت هم نه لري. ښایي دا خبره ځینې ربړې هم ولري، خو په عین حال کې له گټو هم خالي نه ده؛ په دې معنا په ښاري ژوند کې ډېر ځله موږ وینو چې نارینه د ښځو تابع وي دومره تابع، چې هغه د چا خبره له نارینتوبه یې خلاص کړی وي، خو په کلیوالي ژوند کې بیا ښځو ته د هېڅ خبرې اجازه نه شته، که څه هم کلیوال دودونه اوس ډېر بدل شوي او مېرمنې کولای شي، چې په ځینو مواردو کې له خپلو نارینه وو سره په مهمو مس‌ئلو کې تصمیم ونیسي، خو په دواړو حالاتو کې افراط او تفریط شته؛ اعتدال د خدای هم خوښ دی.

نو پورته بېلگې ته په کتنې سره لیکوال ډېر په مهارت قلم چلولی او د پښتني ټولنې داسې انځور یې وړاندې کړی چې هم یې ښېگنې او هم یې نیمگړتیاوې په گوته کوي اوپه دې توگه ستاینه یې په کې ځای کړې ده.

د ستاینې په اړه ادب څېړونکي دا خبره هم کوي چې د یوې خبرې ټولې ستاینې بیانول او یا اضافي ستاینه کول، نه اړینه خبره ده او نه هم کومه ښکلا لري، بلکې د یوې خبرې یا ښکارندې یواځې هغه ستاینې باید وړاندې شي چې هغه هم د لیکوال موخه وي او هم موضوع ته هنر او ښکلا ورکولای شي، د ساري په ډول که چېرې موږ د یو خطاط د هنر ستاینه کوو، نو اړینه نه ده چې ووایو پلانی خطاط ډېر ښایسته سړی دی او ډېرې ښکلې سترگې لري؛ ځکه دا خبرې یا ستاینې د هغه د هنر په ځلونه کې هېڅ ډول مرسته نه کوي او نه یې هم څرگندونه کولای شي، بلکې اړینه دا ده چې ووایو پلانی خطاط په نسخ، نستلیق او یا هم مات «شکسته» خط کې د خورا پوره کمال او هنر څښتن دی؛ دومره په مهارت خطاطي کوي چې سړی پرې له ورایه مینېږي او د هر چا زړه غواړي، چې شاگردي یې وکړي او...؛ نو که خبره مو رانغاړلې وي، ستاینه د ټولنې په هره برخه کې شوني ده او لیکوال کولای شي د هرې ښکارندې ستاینه وکړي، خو داسې ستاینه باید وشي چې لیکوالي یې غوښتنه کوي او اړینه وي، نه بې ځایه ستاینې چې د گټې او ارزښت پر ځای ورته زیان وکړي او د خلکو زړونه ترې تور کړي.

**مأخذونه:**


۱- منگل، علي محمد. په منگلو کې د بوټيو نومونه، د پکتیا پېژندنې د سیمینار په ویاړ، علمي خپرندویه ټولنه: پکتیا، ۱۳۸۹ لمریز کال، ۲۷ مخ.

۲- انصاري، ربیع. پاڼه ورژېده، د صالح محمد صالح ژباړه، دانش خپرندویه ټولنه: پېښور، ۱۳۸۱ لمریز کال، ۳ مخ.

۳- پورتنی اثر، ۴ مخ.

۴- غضنفر، اسدالله. د نثر لیکلو هنر، په نیدرلنډ کې افغاني کلتوري ټولنه، ۱۳۸۹ لمریز کال، ۳٦ او ۳۷ مخونه.

۵- احمدي، نصیر احمد. بوډا او د لېوانو پلونه، مومند خپرندویه ټولنه: ننگرهار، دویم چاپ، ۱۳۸۸ لمریز کال، ۱۱۳ او ۱۱٤ مخونه.


## د ادبیاتو ماهیت

ژوند ادب ته همداسې کیف ورکوي. که څوک دا دعوه کوي چې ادب یواځې د ادب لپاره دی. د دوی په وینا ادب یواځې د ادیب د خوښې او خوند د تظاهر ذریعه ده. له دې ور هاخوا بله چاره په غاړه نه لري. ادب دې یواځې ماته خوند راکړي او بس! زما په نظر (ادب د ادب لپاره) نظریه د ادب سپکاوی او ادبي ماهیت ته زهر ورپیچکاري کول دي او که څوک دا ادعا کوي چې بیا ادبي روح او کیف ورکېږي. دا سمه نه ده، ځکه ادبي کیف لوستونکو او اورېدونکو د خپل تاثر پر اساس ادبي کیف بللی. تر هغه وخته موږ د خپل کلام له زوره نه خبرېږو، تر څو چې په خلکو یې تاثیر ونه وینو. ادبي کیف د عطرو هغه تېز او ښکلې بوی ته ورته دی چې پېرونکي یې په عطار ور مات کړي وي.

دا منو چې ادب ازاد مرغه ته ورته دی چې په قفس کې مري؛ خو د ادب ازادي د خپلې پنځوونکې ټولنې له ټولنیزو، کلتوري، ثقافتي او ښکلاییزو ارزښتونو غلامه ده. هره ټولنه ځانگړي ښکلاییز ارزښتونه لري، په بله ټولنه یې د تحمیل هڅه بې ځایه ده. د ټولنو ترمنځ ځینې گډ ارزښتونه موجود وي؛ لکه ښکلا، مینه، عاطفه، احساس او نور... نظر ټولنو ته دا ارزښتونه نسبي وي؛ د بېلگې په ډول حمزه صاحب وايي:

غـل د مـحـبـت غـلـطـېـدای نـشي
څوک چې په محفل کې چاته نه گوري

پورته بیت موږ ته ځکه ښکلی او خوږ ښکاري چې د پښتني حسن او مینې حالت په کې انځور شوی. په پښتني محیط کې د محبوب پر وړاندې ښکته کتل ښکلا ده. ممکن په نورو ټولنو کې دا چاره بزدلي، ناوړه او دار اچوونکی حالت وگڼل شي. د حمزه بیت ته پښتني فرهنگ ځانگړی کیف ورکړی.

ځینې بیا په دې اند دي چې ادب باید پرېښودل شي چې د ادبیت په اړه یې خلک قضاوت وکړي. که دا نظر د دې په خاطر وي چې په خلکو کې د ادبي روح انعکاس ومومو ښه خبره ده، ادب ته به مو گټه رسولې وي؛ خو په دې نظر کې باید خلک او د خلکو لیدلوری روښانه شي. کوم خلک؟ هغه خلک چې عام ذهنیت لري او که هغه خلک چې ادبي ذوق لري؟ که ادب د ادبي ذوق لرونکو کسانو لپاره پنځوو دا به یوه تېروتنه وي، د تور کمیس په نسبت په سپین کمس باندې د سپینو گلانو ټومبل ښکلا نه زېږوي. زما په فکر ادب د ژوند په اړه د عامو خلکو ذوق، خیال، ذهن او فکر پالي. که په عام ذهنیت خبره کوو، دا مسله باید دکلتوري، ثقافتي او ټولنیزو ارزښتونو له لیدلوري وگورو. ډېری کسان رحمان بابا شاعر نه بولي. که ځیر شو هیڅا خلکو ته نه دي ویلي چې د رحمان بابا دیوان د یوه سپېڅلي کتاب په څېر کور کې درسره وساته او یا دغه بیتونه دربانديې گران کړه چې وایي:

ځان ژوندی په ځمکه خښ کړه لکه تخم
که لویې غواړې د خاورې په مثال شه

یا:

واړه د خپل ځان په نظر گوره که دانا یې
ای عبدالرحمانه ! جهان ټول عبدالرحمن دی

نه صوفیانو ته چا ویلي چې دا بیت یې ومنئ:

په نېستۍ کې د هستۍ په نـنـداره شه
ویرانه کې د خپل بام پـه نـنـداره شه

که ادب د ژوند په فلسفه کې گورو نو بیا ادب د ژوند د سینگارولو هڅه ده او که ادب د ادب په فلسفه کې لټوو؛ نو بیا دې شاعران او لیکوال په یوه کونج کې کښېني پرته له مخاطبه خپل شعرونه او لیکنې دې کوي، خپل زړه دې خوښ او خوشحاله ساتي په موږ یې څه! چې د حمزه صاحب په خبره دا هسې اوتې بوتې دي. که ادب د خلکو په برداشتونو او لیدلوریو کې مطالعه کوو، نو ضرور ده چې دا وپېژنو چې دا خلک څوک دي؟ د کومې ټولنې وگړي دي؟ ذهن او خیال یې په کومو فرهنگي زیگنالونو پورې تړل شوی؟ کله مو چې دا پوښتنې ځواب کړې هله کولای شو داسې څه وپنځوو چې د خلکو د زړه درزا تفسیر کړي. که د رایې خبره وي نو اویا سلنه خلک د رحمن بابا له شعرونو کیف اخلي، ځکه دوی د جلالي مینې، کلتور او د ټولنیز ژوند سینگاروونکي توکي په کې موندلي.

ادبیات د ټولنیزو، کلتوري، فرهنگي او نورو گډو ارزښتونو سره په تړاو کې مطالعه کېږي. که په ادبیت کې د خلکو رواني اغېزې لولو؛ نو دا هم باید وپلټو چې څه شی د خلکو روان او سکون ته خوښي ورکوي د هغه د معیار لمنه تر کومو پولو غځېږي.

د ادبیاتو په ماهیت کې بل بحث د ادب او واقعیت د تړاو او بېلتون خبره ده. موږ د ادب په تعریف کې وویل چې ادب واقیعتونه په هنري ایماژنو کې وړاندې کوي. په ادب کې له واقعیتونو سره علمي برخورد نه کېږي د بېلگې په ډول دا یو واقعیت دی چې ۱ + ۱ = ۲ کېږي. که د پسرلي په موسم کې په بیدیا کې روان وم دوه د ارغوان گلان په داسې ډول څنگ په څنگ ووینم چې سرونه یې یو په بل ورمات وي، دغه انځور ماته هغه مین را په زړه کړي چې له مودو وروسته یو بل ته ورغاړې وتې وي؛ نو دلته خو ما له دې واقعیت څخه انکار ونه کړو چې یو جمع یو دوه کېږي، نه مې دوه گلان درې کړل. یواځې مې د دوو مفهوم په یوه اغېزناک او موثر ډول په ادبي ظرف کې وړاندې کړو. د ادب په تعریف کې له واقعیت څخه هدف دا دی چې پېښې به له ژوند او واقع کېدونکو صحنو څخه په غېر عادي، اغېزناکه او ښکلاییزه ژبه اخیستل شوې وي. ادب واقعیت کټ مټ نه بیانوي، بلکې د واقعیت دویمي انځوریزه او اغېزناکه انځورونه ده چې دا بحث بیا د ژبې سبک ته ورگرځي. ادبي ژبه ښکلاییزه، تاثراتي او احساس پاروونکې وي، هیڅکله ترې د علمي ژبې غوندې استدلال او منطق نه غوښتل کېږي.

د ادبیاتو په ماهیت کې بل بحث دا دی چې موږ کوم اثر ته ادبي اثر ویلای شو؟ هغه اثر چې د لوستونکي ذوق وروزي، د هغه د خوښې او خوند وړ وگرځي ادبي اثر گڼل کېږي. که په یوه اثر کې د اغېزمنېدلو، روحي خوشحالېدلو او احساس وېښولو تومنه نه وي موجوده ادبي اثر نه گڼل کېږي.

دا به بې ځایه نه وي چې ووایم له بهرنیو حواسو سربېره په دروني حواسو (تخیل، احساس، عاطفه، واهمه، استیتیکي حس) باندې د ژوند تفسیرول د ادب چاره ده. هغه کس چې د حسونو له دروني فعالیته مو خبروي هغه ادیب، له څه مو خبروي هغه ادب، په څه ډول مو خبروي هغه ادبي اثر دی؛ نو ادبیات د انسان د دروني او بیروني جهان تفسیروونکې فاکولته ده.

## د گرامر وېش او ...

هغه گرامر چې د یوې ژبې د ټولو لهجو گرامري جوړښت، ډولونه او بدلونونه په هراړخیزه توگه تر څېړنې لاندې نیسي، لوی یا جامع گرامر بلل کېږي. د دې گرامرونو لیکل زیات کړاو غواړي او لیکل یې اوږدې او هر اړخیزې څېړنې ته اړتیا لري.

**۳- تشریحي گرامر (Descriptive Grammar)**

هغه گرامر چې د یوې ژبې گرامري جوړښت او ساختمان په یوې ټاکلې تاریخي دورې کې له کوم تغییر او بدلون پرته بیانوي تشریحي گرامر بلل کېږي. تشریحي گرامر د جوړښت جلا لارې چارې، اصول او قواعد لري چې د همغې له مخې یوه ژبه تشریح کېږي او گرامري ځانگړتیاوې یې څېړل کېږي. په تشریحي گرامر کې د یوې ژبې ساختمان او جوړښت پرته له کوم بدلون او تغییر څخه داسې تشریح کېږي، لکه څنگه چې د ژبې د اصلي ویونکو له خوا ویل کېږي.

که لوی یا جامع گرامر داسې ولیکل شي چې د تاریخ په یوه ټاکلې دوره کې د یوې ژبې د جوړښت په اړه څېړنه او پلټنه وکړي او ژبه په هغه ډول چې اصلي اورېدونکي پرې خبرې کوي پرته له کوم بدلون تشریح کړي. دې گرامر ته تشریحي گرامر ویل کېږي.(۳: ٦۸-٦۹)

**۴- پرتلیز گرامر (Comparative Grammar)**

هغه گرامر چې په هغه کې د دوو یا زیاتو هم‌ریښه ژبو جوړښت، ساختمان او نورې ځانگړتیاوې سره پرتله شي د پرتلیز گرامر په نامه یادېږي. پرتلیز گرامر تر ډېره لرغونو او متروکو ژبو ته لیکل کېږي، لکه د اویستا د گرامر تطبیق له سانسکریټ، لرغونې فارسي او لرغونې یوناني سره، د یادونې وړ ده چې همریښه ژبې هغو ژبو ته ویل کېږي چې د یوې ژبې څخه رابېلې شوې وي او د وخت په تېرېدو ترې بېلې ژبې جوړې شوې وي، خو په تاریخي لحاظ د ژبو په یوې کورنۍ پورې اړه ولري. د گرامر لیکونکو او ژبپوهانو په وینا د پرتلیز گرامر لیکل له هغه مهاله راپیلېږي، کله چې د قبل‌المیلاد د څلورمې پېړۍ په شاوخوا کې د پاڼیني گرامر، گرامر لیکونکو او ژبڅېړونکو ته په لاس ورغی.

**۵- تاریخي گرامر (Historical Grammar)**

که چېرې د یوې ژبې گرامري جوړښت، تغییرات او بدلونونه د تاریخ په اوږدو کې تر څېړنې لاندې ونیول شي، او کوم تغیرات چې د تاریخ د تکامل په دورو کې په هغه ژبه کې منځته راغلي، په علمي ډول تشریح شي تاریخي گرامر ورته ویل کېږي.

د تاریخي او تشریحي گرامرونو ترمنځ عمده توپیر په دې کې دی چې د یوې ژبې په تشریحي گرامر کې یوه ژبه د تاریخ په یوه ټاکلې دوره کې په ثابت ډول له کوم بدلون او تغییر پرته څېړل کېږي، حال دا چې تاریخي گرامر ژبه د خپل پیدایښت له وخته نیولې تر موجوده حالت پورې د تغییر او تحول په حالت کې د ثبت شوو اسنادو په رڼا کې څېړي.

**٦- مقابلوي گرامر (Contrastive)**

که د دوو یا زیاتو همریښه او ناهمریښه ژبو جوړښت او ساختمان د مقابلې په موخه د هغوی سره ورته او ناورته صورتونه پرتله شي دې ډول گرامر ته مقابلوي گرامر ویل کېږي. (۳: ۷۰)

مقابله یې گرامر د ژباړې او د خارجي ژبې د تدریس لپاره ډېر گټور دی.

د پرتلیز او مقابلوي گرامر ترمنځ توپیر په دې کې دی چې پرتلیز گرامرونه د دوو یا زیاتو هغو همریښه ژبو گرامري جوړښت او ځانگړنې سره پرتله کوي چې په تاریخي لحاظ له یوې ۲مخ

# زېرى

علمي- څېړنيزه او ادبي پنځلس ورځنۍ جريده

د تاسيس کال ۱۳۱٦ هجري شمسي

د ۱۳۹۹ ل.کال زمري(اسد) مياشت | ۹- ۱۰مه گڼه | پرله پسې ۳۵۳- ۳۵۴مه گڼه

د کتونکي ډلې تر نظر لاندې
مسؤل مدير: څېړندوى احسان الحق
مهتمم: څېړنيار ياسرپاچا
د يوې گڼې بيه: پنځه افغانۍ



د اړيکو شمېرې: ۰۷۴۴۴۸۷۳۳۵
۰۷۰۴۹۸٦۰۳۳
برېښناليک: zerai1316@gmail.com
پته: د علومو اکاډمي، د ژبو او ادبياتو مرکز، زنبق څلور لارې، نوى ښار کابل—افغانستان



د افغانستان د علومو اکاډمي
د ژبو او ادبياتو مرکز خپرنيز ارگان


- په زېري جريده کې له سرليکنې پرته، د نورو ليکنو سپيناوى په خپله د ليکوالو پر غاړه دى.

## فرهنگي او ادبي خبرونو پېښليک



څېړنوال محمد آصف احمدزى

### فرانسوي- پښتو سيند چاپ شو

فرانسوي- پښتو سيند چې شاوخوا يوځلوېښت زره مدخلونه لري، ډاکټر محمد اکبر وردگ ليکلى او د آسيايي ژبو يوې متخصصې خپرندويې موسسې »ازياتېک (L'Asiatheque) «په پاريس کې خپور کړى دى.




ډاکټر محمد اکبر وردگ د طب ډاکټر دى، خو له ډېر پخوا راهيسې له ژبې او ادب سره هم سروکار لري. په ۱۳۴۰ لسيزه کې د پښتو ټولنې افتخاري غړى هم و.
نوموړي په ۲۰۱۵م کال کې پښتو- فرانسوي سيند هم کښلى دى چې د څلوېښت زرو شاوخوا مدخلونه لري او هغه هم په پاريس کې د همدې خپرندويې مؤسسې له خوا چاپ شوى دى.
تر دې له مخه يې له ښاغلي کبير حبيب سره په گډه يو بل فرانسوي-پښتو قاموس هم خپور کړى و.

### د اطلاعاتو او فرهنگ وزارت چارواکو له فرهنگيانو، ليکوالو او استادانو سره غونډه وکړه

د اطلاعاتو او فرهنگ وزارت د هېواد له فرهنگيانو سره پراخو او دوامدارو اړيکو ته اړتيا لري. دغه ټکى د ياد وزارت سرپرست او نوماند وزير محمد طاهر زهير د هېواد له فرهنگيانو، ليکوالو او د پوهنتون له استادانو سره په يوه ناسته کې چې د کابل ښار په بابر بڼ کې د زمري په ۳مه جوړه شوې وه، مطرح کړه.



دغه ناسته د فرهنگ او نشراتي چارو حالت د ښه والي لپاره د فرهنگيانو او ليکوالو د وړانديزونو او رغندو نيوکو د اورېدو په موخه جوړه شوې وه.
د اطلاعاتو او فرهنگ وزارت سرپرست، افغانستان داسې هېواد وباله چې ژورې فرهنگي ريښې لري او دا خاوره يې د اسلامي تمدن، د فکر، فلسفې، فقهې، عرفان، تصوف، کلام، تاريخ او تفسير د ودې او پرمختگ مرکز وباله او زياته يې کړه چې د اسلامي تمدن او فرهنگ ستر وياړلي او مشهور شخصيتونه له دې جغرافيې راپورته شوي دي او د اسلامي وياړونو برخه بلل کېږي.
په پاى کې د غونډې گډونوالو آزاد بحث وکړ او د هېواد د فرهنگي حالت د لا ښه کېدو لپاره يې خپل وړانديزونه مطرح کړل.

سرچينــــــه: http://www.bakhtarnews.com.af/pashtu/culture.html?start=42

### "د گوَري ژبې فونولوژي" علمي- څېړنيزه پروژه دفاع شوه

د علومو اکاډمۍ، د ژبو او ادبياتو مرکز، د ورونو قومونو د ژبو او ادبياتو انستيتوت علمي غړي څېړنيار شريف الله سانېن د څېړندوى علمي رتبې ته د لوړاوي لپاره"د گوَري ژبې فونولوژي" په نوم له خپلې علمي- څېړنيزې پروژې څخه د زمري د مياشتې په ۴مه برياليۍ دفاع وکړه.



### د علومو اکاډمي د بشري علومو د برخې مرستيال معرفي شو

څېړنپوه دوکتور محمد علم اسحاقزى د افغانستان د علومو اکاډمي د بشري علومو د برخې د مرستيال په توگه د زمري په ۵مه د علومو اکاډمي د مشرتابه له خوا معرفي شو.



### اکاډميسين سليمان لايق وفات شو

د افغانستان د علومو اکاډمي علمي مشاور، شاعر، ليکوال او سياستوال اکاډميسين سليمان لايق د ۱۳۹۹هـ. ش کال د زمري په ۱۰مه (د ۲۰۲۰م کال د جولاى ۳۱مه) د ۹۰ کلونو په عمر په جرمني کې ومړ.



د ۱۳۹۸ د تلې مياشتې په ۱۳مه نېټه (د ۲۰۱۹ کال سپتمبر) د کابل ښار په شش درک سيمه کې چاودنه وشوه چې په همدې مهال لايق له کوره د دفتر ته په لاره و، چې د همدې چاودنې له امله سخت ټپي شو، لومړى په کابل کې درملنه پيل، خو د روغتيايي حالت د خرابوالي له امله هند ته ولېږدول شو او له هغه ځايه د لا ښې درملنې لپاره جرمني ته انتقال شو، خو د ۱۳۹۹هـ. ش کال د زمري مياشتې په ۱۰مه د جرمني هېواد د ماينځ په روغتون کې له ابدي ژوند سره يوځاى شو.
د لايق جنازه کابل ته د زمري په ۲۰مه (د دوشنبې ورځ) راوړل شوه او په سبا يې د کابل ښار په مرنجان غونډۍ کې خاورو ته وسپارل شوه.
سليمان لايق چې اصلي نوم يې غلام مجدد و، د ۱۳۰۹ کال د تلې په ۲۱مه د پکتيکا ولايت د مرکز ښرنې په ايمنيخېلو کلي کې وزېږېد.
ده پر فرهنگي کارونو سربېره سياسي فعاليتونه هم درلودل، د خلق د ډيموکراتيک گوند د پرچم څانگې له مشرانو څخه و او د قبايلو او سرحدونو چارو د وزارت سربېره‌يې په يو شمېر لوړو دولتي پوستونو کار کړى دى.

### د څېړنې پنځه مياشتنى کورس پاى ته ورسېد

د افغانستان د علومو اکاډمۍ د سيمه ييزو مطالعاتو د مرکز په نوښت د علومو اکاډمۍ د بېلا بېلو انستيتوتونو نږدې ۳۰ تنه علمي غړو ته د څېړنې د اصولو او مېتودونو په اړه پنځه مياشتنى کورس د زمري د مياشتې په ۲٦مه نېټه د وروستۍ ازموينې په اخيستو سره پاى ته ورسېد.



دغه کورس چې د ۱۳۹۸ هـ.ش کال د ميزان د مياشتې پر ۲۵مه نېټه پيل شوى و، درسونه يې د همدغه کال د حوت د مياشتې پر ۲۵مه نېټه پاى ته ورسېدل، چې کرونا ناروغۍ د قرنطين له امله يې ازموينه ځنډېدلې وه.
د دغه کورس د تدريس چارې د څېړنپوه زلمي هېوادمل له خوا چې نږدې پنځوس کاله د څېړنې په برخه کې تجربه لري او د کابل او ننگرهار پوهنتونونو سربېره يې په ځينو نورو خصوصي او دولتي پوهنتونونو کې دغه مضمون تدريس کړى، پرمخ وړل کېدې.
د څېړنې په دغه کورس کې د څېړنې پر عمومي پېژندنې، ډولونو، مېتودونو، تکنيکونو، نورو علومو سره يې پر اړيکو، د څېړنې پر شکلياتو، د مأخذ ليکنې پر اصولو، د څېړنې پر پروپوزل ليکنې او نورو بېلا بېلو برخو تفصيلي بحثونه شوي دي.

### د غازي امان الله خان د فرهنگي کړنو د درنښت علمي سيمينار جوړ شو

د هېواد د خپلواکۍ د بېرته ترلاسه کولو ۱۰۱مه کاليزه د غازي شاه امان الله خان د فرهنگي کړنو د درنښت علمي سيمينار په جوړولو سره د زمري په ۲۷مه ونمانځل شوه.



دغه سيمينار د اطلاعاتو او فرهنگ وزارت په نوښت او د افغانستان علومو اکاډمۍ او کابل پوهنتون په همکارۍ د څو حکومتي مسئولينو، د اطلاعاتو او فرهنگ وزارت د چارواکو، د علمي او فرهنگي شخصيتونو په گډون د کابل په چهلستون ماڼۍ کې جوړ شو.
لومړى د اطلاعاتو او فرهنگ وزارت سرپرست محمد طاهر زهير د سيمينار په پرانيستونکې وينا وکړه، وروسته د جمهور رئيس محمد اشرف غني پيغام د جمهور رئيس ستر سلاکار پوهاند ډاکټر لعل پاچا ازمون ولوست چې په کې ويل شوي وو: د خوشحالۍ ځاى دى چې د اطلاعاتو او فرهنگ وزارت د هېواد د خپلواکۍ د ۱۰۱مې کاليزې په مناسبت د شاه امان الله خان غازي د دورې د فرهنگي کارونو په باب علمي سيمينار جوړ کړى دى. د شاه امان الله خان په دوره کې نه يوازې هېواد خپله خپلواکي ترلاسه کړه، بلکې په بېلابېلو برخو کې پرمختگ ته هم پاملرنه وشوه. شاه امان الله خان غازي او د هغه ياران پوهېدل چې د خپلواکۍ د ساتنې په خاطر او د خپلواکي له نعمت څخه د رښتينې استفادې په مقصد اړتيا ده چې هېواد په اقتصادي، سياسي، ټولنيزو او فرهنگي برخو کې پرمختگ وکړي.
دغه راز په پيغام کې ويل شوي چې د همدې مفکورې پربنسټ د شاه امان الله خان غازي په دوره کې فرهنگي وده گړندۍ شوه، مطبوعاتي فعاليتونه پراخ شول، د هېواد په هره سيمه کې د ښوونځيو جوړول پيل شول، ځينې محصلان د لوړو زده کړو لپاره بهر ته واستول شول او د ښځو غورځنگ فعاليت پيل کړ. شاه امان الله خان غازي او د هغه يارانو د خپلواکۍ د ترلاسه کولو په لاره کې په افغاني ټولنه کې د خپل کار په موده کې يو ستر فرهنگي انقلاب ته لاره هواره کړه او نننې فرهنگي برياليتوبونه د هغې دورې د هلوځلو دوام دى.
په همدې ترتيب د علومو اکاډمۍ علمي غړي څېړنپوه محمد نبي صلاحي د دغې اکاډمۍ، زلمي هوتک د کابل پوهنتون او بيت الرحمن رودوال د ښوونې او روزنې پوهنتون پيغامونه چې د سيمينار په نامه لېږل شوي وو، ولوستل.
دغه راز د هېواد د لومړۍ مېرمنې د دفتر په استازيتوب زهرې يوسف د هېواد د خپلواکۍ د ۱۰۱مې کاليزې په وياړ د افغانستان ټولو خلکو ته مبارکي وويله، د غازي امان الله خان د دورې په بېلابېلو برخو په تېره بيا فرهنگي برخه کې يې د ښځو د رول په باب معلومات ورکړل.
وروسته د سيمينار علمي غونډه د څېړنوال استاد حبيب الله رفيع په رياست پيل شوه، علي اميري د غونډې مرستيال وټاکل شو او رنگينې اسدي ته د غونډې د منشي دنده وسپارل شوه.
په دې غونډه کې استاد حبيب الله رفيع، سيد حسين اشراق، ساهرې شريف، زلمي هوتک، پوهاند محمد رسول باوري، مصطفى شفيق، ډاکټر محمد شريف ځدراڼ، آمنې اميد، څېړنپوه سيد محي الدين هاشمي او څېړندوى داود ناظم په وار سره خپلې تحقيقي مقالې چې د شاه امان الله خان غازي د دورې د بېلا بېلو اړخونو او کارنامو په تېره بيا فرهنگي کارونو په باب يې ليکلې وې، ولوستې.
د سيمينار په پاى کې د اطلاعاتو او فرهنگ وزارت ستر سلاکار ډاکټر طارق رشاد په اتو مادو کې د سيمينار پرېکړه ليک ولوست.

سرچينــــــه: http://www.bakhtarnews.com.af/pashtu/culture/item/98463

### د کوزې پښتونخوا او کونړ شاعرانو يو ماښام د شعر په زمزمو رنگين کړ

هېواد ته له لرې پښتونخوا نه راغلو مشرانو شاعرانو د زمري ۲۷ ماښام د کونړ شاعرانو سره يوځاى د شعر په زمزمو رنگين کړ.



د کونړ ولايت مقام په کوربه توب دغو مراسمو کې چې د کوزې پښتونخوا مشرانو شاعرانو؛ درويش دراني، اباسين يوسفزي، فاروق فراق، عبدالحکيم عندليب، ثميه قادر، نورين شمعې، حسينه گل تنها او شکيله ناز سربېره د پلازمېنې کابل، ننگرهار او کونړ ولايتونو ځينو شاعرانو، د کونړ ولايتي شورا استازو او د شعر مينه والو برخه اخيستې وه.

سرچينه: د کونړ ولايت مقام د رسنيو دفتر

### "اماني بنډار" دويمه ادبي غونډه وکړه

اماني بنډار خپله دويمه دوه اونيزه غونډه په کابل ښار کې د وږي په ۷مه جوړه کړه چې په کې پر ويناوو سربېره مشاعره هم وشوه.



اماني بنډار د ۱۳۹۹ لمريز کال د زمري مياشتې په ۲۸مه پيل شو او په هرو دوو اونيو کې يو ځل د کابل ښار په خوشحاله مېنه کې غونډه جوړوي.
اماني ادبي بنډار چې پيل يې د افغانستان د آزادۍ ۱۰۱مې کاليزې څخه شوى، د مسئولينو په وينا يې چې د غازي امان الله خان د خاطرو او پلانونو د عملي کولو لپاره به خپلې هڅې نه سپموي.
د ويناوو تر څنگ غونډې ته نجي الله سمون، حبيب مظلوميار، قدرت الله، سميع الله همت، عبادالله بريال، اتل وقار، ايمل وقار، وحيد الله اورياخېل او گڼو نورو شاعرانو خپل شعرونه وړاندې کړل.

سرچينه: وحيدالله اورياخېل، https://www.taand.com، »اماني بنډار« فېسبوک پاڼه.

### په زابل کې د خپلواکۍ په وياړ مشاعره جوړه شوه

د زابل د اطلاعاتو او فرهنگ رياست په نوښت په مرکز قلات ښار کې د خپلواکۍ د ۱۰۱مې کاليزې په وياړ مشاعره د زمري په ۲۹مه جوړه شوه.



په مشاعره کې اديبانو، شاعرانو، ليکوالانو، فرهنگيانو او د دولتي ادارو مشرانو گډون کړى و.

سرچينه: وصال، باختر اژانس.

### جمهور رئيس غني: زموږ فرهنگي ريښې پياوړې او دوامدره دي

د افغانستان د اسلامي جمهوريت جمهور رئيس محمداشرف غني د زمري په ۳۰مه، مازيگر مهال د اماني دورې د ليکوال او ډيپلومات اديب خان افندي د آثارو د مخکتنې په مراسمو کې گډون او وينا وکړه.
په دغو مراسمو کې چې د هېواد د خپلواکۍ د بېرته ترلاسه کولو د ۱۰۱مې کاليزې په مناسبت په ارگ کې جوړ شوي وو، د هېواد لومړۍ مېرمن، دولتي مقاماتو، فرهنگيانو، ليکوالو او شاعرانو گډون درلود.
په پيل کې د اطلاعاتو او فرهنگ وزارت سرپرست طاهر زهير وويل: د امير شېرعلي خان له زمانې د ډيموکراسۍ لسيزې تر پاى پورې په افغانستان کې توليد شوي متنونه په خپل ډول کې سارى نه لري.
نوموړي د اديب خان افندي د آثارو د تدوين او ژباړې په برخه کې د استاد حبيب الله رفيع او استاد محمداصف صميم د هڅو او د جمهور رئيس د پاملرنې منه وکړه.
وروسته استاد حبيب الله رفيع په خپلو خبرو کې د هېواد د خپلواکۍ د بېرته ترلاسه کولو د ۱۰۱مې کاليزې د مبارکۍ پر مهال وويل، نن د هغه چا د شخصيت نمانځنه کوو چې د هېواد لپاره يې ستر خدمتونه کړي دي.
نوموړي د اماني دورې ليکوال او ډيپلومات اديب خان افندي د ليکنو او اسنادو په ترلاسه کولو کې د هېواد د لومړۍ مېرمنې د هڅو منه وکړه، ويې ويل: «ما او استاد صميم درې جلده ذکر شوي اثار له عربي نه پښتو ته وژباړل او له يو ټوک دري سره مو چاپ کړل.»
استاد زياته کړه، اديب خان افندي افغانستان ته له هيڅ راز خدمت دريغ نه دى کړى او زياتې مقالې يې د هغه وخت په اخبارونو کې په دري او عربي ژبو ليکلي او د انيس په ورځپاڼه کې يې هم انتقادي مقالې خپرې شوې دي.
وروسته ځوانې شاعرې شفيقې خپلواک د جنگ او ټوپک بد گڼلو او قنبر علي تابش د پياوړي حکومت او پيوستون د اړتيا په اړه د خبرو پرمهال له وطن سره د مينې اړوند شعرونه هم ولوستل.
جمهو رئيس غني په خپلو خبرو کې د هېواد د لومړۍ مېرمن، استاد صميم او استاد رفيع له هڅو د منني کولو پر مهال وويل، د خپلواکۍ پيغام ژوندى، همېشه او دوامدار دى.



ده څرگنده کړه، د شلمې پېړۍ خپلواکي د ۲۱مې پېړۍ له خپلواکۍ سره توپير لري، دا بايد له يوه بل سره د اړيکو له اړخه ووينو.
اديب خان په هغه زمانه کې دا په ډاگه کوله چې اماني نهضت په اسلامي نړۍ کې د عطف نقطه وه او تر اوسه مو د اماني نهضت له داخل څخه ژور ليدلورى نه درلود، اما اوس د اديب خان د آثارو په نشرولو سره له داخل څخه يوه هينداره پيدا شوه.
د غني په وينا، پر خپلواکۍ د اديب خان مفکورې، يوازې اقتصادي او نظامي اړخونه نه لرل، بلکې پراخ فرهنگي بُعد يې درلود.
هغه د خپلو خبرو په پاى کې وويل، موږ بايد خپل تېر ۱۰۰ کلن فرهنگ او څو زره کلن تمدن هېر نه کړو. دا هېواد د تمدني ارتباط څلور لار وه او زموږ هويت يو ځانگړى هويت دى.

سرچينه: https://president.gov.af/ps/?p=26876